
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

مصري خان خاطر اپریدے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# ترون

د خيبر درې
د شاعرانه غېږې
په
نوم

د خاطر رنګين غزل ته حيرانېږم
په دې خبره خيبر کښې څۀ دي چې لۀ خاورو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



# فهرست

شمېر — مخ

(ا)

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاتۀ کا ______ ۱۴

۲ : چې اشنا ئې ستمګر شي نو به څۀ کا ______ ۱۵

۳ : ژړېږمه چې کړې هر وخت د دردونه اشنا ______ ۱۶

(د)

۴ : کافي برقې دي ديدار د محمدؐ ______ ۱۷

(ل)

۵ : خېبر نن کۀ در ته ما وکتل تا را وکتل ______ ۱۸

(م)

۶ : د استاد حسن تماشې وا خستم ______ ۱۹

۷ : دوا يه شم تا نه قربان څۀ وکړم ______ ۲۰

۸ : باغ د مينې دې د خيال پکښې غنچې کړم ______ ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ
۹ : زهٔ ځکه د مرم په شان دیدار ته اربهٔ کیږم ———— ۲۲
۱۰ : شرمسره چې نه یم په څواله پسې نه ځیږم ———— ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هوښیار نهٔ شم ———— ۲۴
۱۲ : واخلمه تا او کهٔ دنیا واخلم ———— ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شوه زهٔ یې نهٔ اخلم ———— ۲۶
۱۴ : ځکه ګلې چې په ازغو کښې ونیم ———— ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېروم ———— ۲۸
۱۶ : اشنا کهٔ تا ته په کتو پېره شوم ———— ۲۹
۱۷ : قسمت داسې دې ویده کړم چې بېدار نهٔ شوم ———— ۳۰
۱۸ : نور به زړهٔ یې نهٔ ځانګړی چې څهٔ وایم ———— ۳۱
۱۹ : ته به کرغېږ هسې بنځلې نهٔ به مریم ———— ۳۲
۲۰ : ځنګلي مخ ته دې د مرم په شان اربهٔ یم ———— ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګوره سرے سکرو نهٔ یم ———— ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زهٔ دې په غنچو کښې نهٔ یم ———— ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېځلے یم ———— ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې یم ———— ۳۷

( و )

۲۵ : ژوندی ګله ته ما یهٔ دی چې لهٔ ځانه درو ———— ۳۸
۲۶ : څوک به زهٔ ژړه بیرته به سره ستر ګو ———— ۳۹
۲۷ : نن به څهٔ یې [illegible] ستر ګو ———— ۴۰

مخ
۲۸ : بیا دې سحر نهٔ کړم په هغو ستر ګو ———— ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې توله شپه سحر لیدلو ———— ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا لهٔ ویده پېغور سره لاړلو ———— ۴۳
۳۱ : باد شو همه د عشق ډګې نګونو په سر دی ———— ۴۴
۳۲ : خو به سره چې درایه په زړهٔ ذره ذره یی ———— ۴۵
۳۲ب : ځکه چې تن به سره [illegible] کړو ———— ۴۶
۳۲ج : [illegible] انکار دې وکړو ———— ۴۷

( ه )

۳۳ : خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته ———— ۴۸
۳۴ : زهٔ یمه هجران د دنیا ستر ګو ته ———— ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې دا د مل نخښه ده ———— ۵۰
۳۶ : خوا دې ته راغلهٔ شر [illegible] نامه پاتې ده ———— ۵۱
۳۷ : بېګا ستا په انتظار ې هسې ستړې توله شپه کړه ———— ۵۲
۳۸ : لرې د نقاب لرې کړه دل زده کړه ———— ۵۳
۳۹ : ما په شړګیو تا په خوږو تېره کړه ———— ۵۴
۴۰ : رقیبه په خپل راغلې راشنا خبرې کړه ———— ۵۵
۴۱ : یاد شراب نه نشې د یاسه ———— ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یې رسه ———— ۵۷
۴۳ : ځکه ګلې د مرسپدو وکه شه ———— ۵۸
۴۴ : ستا لهٔ سپینه مخه ځار زما زړګے شه ———— ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه [illegible] په لاس کښې راغله ———— ۶۰
۴۶ : ترخې ته چې زړهٔ کړې کله کله ———— ۶۱

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




مخ

٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې په شرله ______ ١٢

٤٨ : بیا به سره کړ دو اوس ځوانۍ ده دمه دمه درومه ______ ١٣

٤٩ : شکر دے چې زه هم د شپې شومه ______ ١٤

٥٠ : کله چې په فکر کښې دستا یمه ______ ١٥

٥١ : د لارې خاورې شم د پښې ځنې د تلې یمه ______ ١٦

٥٢ : تو به خدنګه تېرېږې کا په هوښیار باندې وختنه ______ ١٧

٥٣ : ما په مثال لکه پتنګ وګڼه ______ ١٨

٥٤ : دستا د خلق چې فیصله مانه شي ______ ١٩

٥٥ : ترو نصیب به خړ جو کښې دا قسمت مه راکړه ______ ٧٠

٥٦ : ته خو وایه زه به څه کړم، زړګیه لېونیه ! ______ ٧١

ۀ

٥٧ : ځیګر مې شو کباب په لمبو د لګیدو ۀ ______ ٧٢

٥٨ : لوے دریاب د مینې نه شي په وارۀ نهرۀ ______ ٧٣

ی

٥٩ : دا مې بله شپه به په نصیب سره راشي ______ ٧٤

٦٠ : عکس دستا زما د سترګو له ځنبان ورځي ______ ٧٥





٦١ : دستا سترګې چې کړې د نهړه نه وځي ______ ٧٦

٦٢ : زړګیه ! تا ولې چې دردونه څه دی ______ ٧٧

٦٣ : چې پښېمان نه شې په یا کښې څه دی ______ ٧٨

٦٤ : کله د ستا د خند به د رشپې دی ______ ٧٩

٦٥ : دستا په غم کښې خوشحالي پټې دی ______ ٨٠

٦٦ : زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دی ______ ٨١

٦٧ : نن خو مانه هسې بله دنیا ښکاری ______ ٨٢

٦٨ : زړۀ چې کله هر څو زما هر څۀ غواړی ______ ٨٣

٦٩ : زما زړۀ او دستا سترګې سره جوړیږی ______ ٨٤

٧٠ : ما نګه نن به چې زړۀ دچې یار خو دردونه دکا تېرېږی ______ ٨٥

٧١ : څۀ چې پرې پښې ما د یار سره جوړېږی ______ ٨٦

٧٢ : د محبت د ګذار دښې ما غږیږ نۀ جوړیږی ______ ٨٧

٧٣ : ترو به ایله څۀ د لېونی نه پاڅی کیږی ______ ٨٨

٧٤ : سترګې دې چې کړه برنده چې وختر نه یار خطا شی ______ ٩٠

٧٥ : په ارمان د نادانۍ شی چې هوښیار شی ______ ٩١

٧٦ : د دې دنیا نه چې کلان ورک شی ______ ٩٢

٧٧ : چې چې دی بنده دے دلبر په پېښان شی ______ ٩٣

٧٨ : ستا چې خورې زلفې کړې ته راتار شی ______ ٩٤

٧٩ : ویلاند چې به چې ما وې چې کا څۀ به شی ______ ٩٥


Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




مخ

۸۰ : خزان لاړ شي، بهار راشي ګلان خوشحاله شي ________ ۹۶

۸۱ : راشه په کوشش کېږي د جګر خبرې نه شي ________ ۹۷

۸۲ : داستا په سترګو کېږي به څه باقي شي ________ ۹۸

ے

۸۳ : زړه په ما نه دے چې نا رسے مخ دے ________ ۹۹

۸۴ : شوک چې ستا د ګراف مینې طلبګار دے ________ ۱۰۰

۸۵ : خونړ خوږ د مینې په ترخو کېږي انتظار دے ________ ۱۰۱

۸۶ : خدایه څومره بې وفا زما دلبر دے ________ ۱۰۲

۸۷ : ما وې ځان راته اشنا د ستا په ښهر دے ________ ۱۰۳

۸۸ : شاڅه چې حسن دې اشنا د سرو لمبو نه ډک دے ________ ۱۰۴

۸۹ : تګ ترو سرے دا ستا سرے ورېل دے ________ ۱۰۵

۹۰ : څومره ورې په نړیک باندې چې غم دے ________ ۱۰۶

۹۱ : ستا په انتظار کېږي ماته کال څه دے ________ ۱۰۷

۹۲ : چې نړۍ مې ستا په ترو دے په بل ترو پېرند نه دے ________ ۱۰۸

۹۳ : چې لمن سنځ ځې د بهر باقي دے ________ ۱۰۹

۹۴ : سترګې دې چلې چې د ښند ا زده کړے ________ ۱۱۰

ې

۹۵ : د ځان سپېڅکار دلرکېږي مسکې دې مالېدې ________ ۱۱۱

۹۶ : اشنا چې ن لیدهٔ ترې وعدې را یادېدې ________ ۱۱۲

۹۷ : زما د امیدونو غنچې شیږې وغن بدې ________ ۱۱۳

۹۸ : چې بنګلي دې وخندېدې شر شوې ________ ۱۱۴





مخ

۹۹ : پوره شومه په دې چې په کنځل کېږي څنګه بنکارېږي ________ ۱۱۵

۱۰۰ : اے ګله ستا چې ډکې له خندانه سترګې الوېږي ________ ۱۱۶

۱۰۱ : کله دې دا زلفې په لاس راغلي اشنا بیا به څه کېږي ________ ۱۱۷

۱۰۲ : د پره خوشحالي بند نه ده بیا راته هیرېږي ________ ۱۱۸

۱۰۳ : ځکه مجنون غرنده ګرځم په بیابان مرګېږي ________ ۱۱۹

۱۰۴ : راشه اے ماو تابان په توره شپه کېږي ________ ۱۲۰

۱۰۵ : چې د سترګو دې بنکاره نې زما سترګې ________ ۱۲۱

۱۰۶ : خوند د هسې پرې ګرځې شرې زما سترګې ________ ۱۲۲

۱۰۷ : د ستا چې نه وینم دا تورې سترګې ________ ۱۲۳

۱۰۸ : څه وشو چې سترګې مې په تابانه چمنونو شولې ________ ۱۲۴

۱۰۹ : چې اشنا نې کړې ایسار یم ولې ________ ۱۲۵

۱۱۰ : اوښکې نه کېږي غم را ماتې شوې ________ ۱۲۶

۱۱۱ : ته به په زړه کېږې ماته څه راکړې ________ ۱۲۷

۱۱۲ : ته ما ستا شېلې یې په سلګه نه لې ________ ۱۲۸

۱۱۳ : هر څو کله چې د زړه قرار ولاړه راځي ________ ۱۲۹

۱۱۴ : دا سې راته ګورې ته نه چې راته ګورې ________ ۱۳۰


سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

---

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کا تهٔ کا
خود لېمهٔ شي کم طاقته پېړواتهٔ کا

چې پلو لهٔ مخه لرې کړي دنیا شي
لکه ستر که د سبا چې را خاتهٔ کا

لرې عکس د زړهٔ واخله کهٔ دې شک وي
چې دا تور باڼهٔ دې څرنګه ویشتهٔ کا

په مئین زړهٔ خندن شي چې یار راشي
په هیبت زړهٔ په کوکل کښې الوتهٔ کا

د خاطر په زړهٔ ګي داغ د بېلتون کوره
چې د یار په لور کاږهٔ واړهٔ کاتهٔ کا

چې اشنا يې ستمګر شي نو به څهٔ کا
چې زخمي شوک په ځيګر شي نو به څهٔ کا

چې ټول عمر يې تېر کړے په پالنګ وي
څهٔ چې زمکه يې بستر شي نو به څهٔ کا

چې په عمر کښې يې غم ليدلے نهٔ وي
چې د غم سره يې سر شي نو به څهٔ کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څهٔ کا

کهٔ ديدن د يار مونده په ډېر هنر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څهٔ کا

زهٔ خاطر خو همېشه دغسې وايم
چې اشنا يې مسرور شي نو به څهٔ کا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړۀ ې کوی هر وخت دردونه آشنا
لږ خو ې واوره فریادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې نۀ
ګوره داو ښکو ې سیندونه آشنا

اوس دې لۀ غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وی خوندونه آشنا

تۀ په جبین کښې دې خالونه خړ دی
دی په چشمانو ې ګردونه آشنا

کۀ ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دی ارمانونه آشنا



کاڼی بوټی دی دیار د محمدؐ
ما منلی په دیدار د محمدؐ

ګېر نګونه به ې لار ې شی په مخکښې
کۀ چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا وا په ګلونه به ې هېر شی
کۀ چا ولیده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنیا ژړا او خندا نۀ وے
نۀ وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وی یې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبرنه کړه درته ما وکړل تا را وکړل
خو ګورم به دې بیا کړه دې سبا را وکړل

هم د غمسې ګلونه وو چې مینه جوړه شوه
څه وشو پسرلے دے کړه اشنا را وکړل

دنیا را ته ګوري د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلې دي هر چا را وکړل

په مخه باندې راغلې مخ دې خله پټه وه
که د غم دې را ته جوړه چې دې په شا را وکړل

دستې مې د خندل هم دا مې وه ارمان
تا چې اے رقیبه په خندا را وکړل

یو دم مې زړه نرے شو لو هم ولو خاندګمه
خاطر چې غریبو نیولې په ژړا را وکړل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے په سر لمبې واخستم

لاس خو یې رانه کړو چې مخ پټوي
ګوري یاران مې د غم شپې واخستم
دا درته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وایې خله ته چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بیا په زولنو کښې ګوره
نن یې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ په سبا پوه نه شومه
کړه دې د زلفو توري شپې واخستم
ګوره د ښونډو نه راته یو پوره بنګاره شو
چې تصور د هغه دیرې واخستم
بس یاد دوم دې نورې مه تنګوه
چرته مې هر نشې غمې واخستم

خاطره ته او دا دنیا دې پوه شه
نه بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

ودایه شم تا نه قربان څه وکړم
نور ددې د پاسه په ځان څه وکړم

ته خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلېدلي ګرېوان څه وکړم
ته خو چا ته نه ورځې، خو زه باغلم
څو یم ستا په در کښې مهمان، څه وکړم
زه به نور څه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څه وکړم
ستا په طمع ځان له پاتې شوے یم
تول خو راته لاړل یاران، څه وکړم
پوه دې چې په ځان کړم اوس چې نه پرېږدې
بیا به داسې نه کړم سلطان، څه وکړم
چا به دغم ټک ټوټوندون اخستے وه
بس خو چې پیدا شوم انسان، څه وکړم

اوس خو زه خاطر په څه پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حېران، څه وکړم

○



○

باغ د مینې دې د خیال په کښې غُنچې کړم
ستا د مغ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
څله اور د خپله لاسه در پسې کړم

ستا د مغ کتاب د زړه په سترګو ګورم
په ځان تېرې شپې او بدې راخورې کړم

نه خاطر خو یاره ستا د مغ کتاب ته
بې له تا نه په خبر کښې ورځې شپې کړم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زۀ لکه د موم پۀ شان دیدار ته اوبۀ کېږم
پرېږده چې او بۀ شم ستا رخسار ته اوبۀ کېږم

چرته شي خوبونه شپې پرې ستوري محفل جوړ کړي
همدا يې مشغولا شي ستا سپېګار ته اوبۀ کېږم

زۀ پرې بندۀ پوهېږم ستا لېدل زما اجل دے
بيا يې هم وار نۀ شي ستا يو وار ته اوبۀ کېږم

اوس خاطره ولې خداې پۀ نېۀ کړم دومره سخته
بيا چې پس لۀ مرګه ستا مزار ته اوبۀ کېږم



ستا پۀ اُلفت کښې به هوښيار نۀ شم
خو چې د عقل نه وزګار نۀ شم

سود يې د عشق پۀ لېونتوب نۀ شي
خو چې رسوا دې پۀ بار بار نۀ شم

يار يې وفا دې ماته هله وائي
چې ترې لۀ سر او ماله زار نۀ شم

خو چې پۀ تورو خاورو موړ نۀ شم
موړ به دې هم سره پۀ ديدار نۀ شم

کۀ د منصور غوندې پۀ دار شم اشنا
دا ستا لۀ عشق به توبه ګار نۀ شم

خاطره! داسې ګذار عشق راکړلو [1]
چې بل ګذار ته به بېدار نۀ شم

[1] متن کښې او دیوان کښې "راکړو" دے، چې مصرع بې وزنه کوي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکۀ دنیا واخلم
پۀ خندا څرنګه ژړا واخلم

لېږي دې پوړ ته کړه د مخ نه زلفې
لېږه سودا چې پۀ دنیا واخلم

ته چې پۀ سترګو کښې مسکۍ شوې ګلې
نۀ دې ددې میني بلا واخلم

تا ته چې ګورم پۀ دود نړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل پۀ شا واخلم

مرګ او بېلتون راته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم کۀ دا واخلم



خوږمه چې نږېږم پۀ ځوانۍ پسې نه هیرېږم
خدایږ زده نۀ پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نۀ اولۀ تا تګ دا هسې کله چرته شوی
دعمره خو پوهېږم چې قدم اخلم ودرېږم
تۀ او ستا بنایست چې په ما څنګه څرګند کړے شي
مۀ کوه ایله نن د هر څۀ سره جوړېږم
نۀ یمه خوشحاله ستا په غم کښې خندہ مۀ شي
خدای یې بخلا مۀ کړه چې لۀ تا مرورېږم
شان یې د کړو نۀ وی خو چې نږدۀ یې شي راپورته
تا ته چې نۀ سوال کړم د خپل ځان څخه شرمېږم
غوښتۀ یې هم دا چې راته وواېې چې درومه
خدای خبر چې بیا دې پۀ پلوۀ دربنکاره کېږم
تۀ کۀ په یو خلۀ لۀ ما خلاصېږې نو بیا واخله
تۀ به راته نۀ شې کتے څۀ له خنده کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا ووې چې یې هېر کړه
پرېږده چې یې واره په هر ځای کښې دریادېږم

---

میاشتنۍ «قند» مردان ـ خوږ ګڼه ۱۰ رکالیز نمبر (ص ۹۵)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوشحالی ستا شوه زه یې نه اَخلمَ
د ستا غمونه واړه زهٔ اخلمَ

تا یې چې زړهٔ وړهٔ ګواه هم نهٔ لرم
اوس به لهٔ تا نه خپل زړهٔ اخلمَ

اول سپېڅې وم ستا د مینې د اور
اوس پهٔ ځان پوره شوم چې لمبه اخلمَ

پهٔ وړاندې ځم پهٔ دروستو کوم اَشنا
زهٔ قدمونه چې واړهٔ اخلمَ

هر سړی ګوري نه پهٔ خاطر دی د غم
پهٔ اسوېلو کښې چې ساهٔ اخلمَ

د منزل په کښې د النظار ضمیر نه د دی چې صحیح نهٔ دے ۔



لکه ګلې چې پهٔ اغزو کښې وینم
داسې یې زړهٔ ستا پهٔ بڼو کښې وینم

رخسار دې وینم تور دو زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې پهٔ تیارو کښې وینم

ګلفامه څو ګړۍ لرې او سې لهٔ مـا
زهٔ دې د نم پهٔ پلوشو کښې وینم

د ستا لیدل تېر شوے خوب وهٔ آشنا
بیا به دا خوب پهٔ کومو شپو کښې وینم

اے د سبا ستړې باغچې پهٔ ورو
تلهٔ د آشنا دې پهٔ خټو کښې وینم

زما خاطر خاطر دې اوږد کښې ویسو
اوس یې لوګے پهٔ اسوېلو کښې وینم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

پهٔ دې دُنیا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه یې دوه غرې تېروم

پهٔ ما ز ه مېر مهٔ شي خوږمخ بنکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوه چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا دخاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر دغم چپې تېروم

○

○

اشناکهٔ تاته پهٔ کتو پوه شوم
نو بس پهٔ تولو تماشو پوه شوم

بس خو معلومه شوه چې نهٔ راځې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوه شوم

یا د ساقي د میږخوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس پهٔ نشو پوه شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوه شوم

◠

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمت دا سې دې ودۀ کړم چې بیدار نۀ شوم
بخښه لۀ تا ستا د غمونو نه وزګار نۀ شوم

پۀ دې دنیا کښې به غم ستا لۀ تۀ ونده څۀ نوی نوی
لېږم غم د ځویم څو یو ځل پۀ کښې خمار نۀ شوم

ستا پۀ الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جرګو ځنې ویزار نۀ شوم

تۀ چې راګورې زۀ به هغه وخت پۀ طمع ومه
یو ځل هم مونږ د ستا د ځلې پۀ بنۀ ګفتار نۀ شوم

هغه وعده چې تا پۀ سترګو کښې وه مانۀ کړې
دا نۀ خاطر دې د وعدې پۀ انتظار نۀ شوم

نور پۀ زړۀ مې نۀ ځائیږي چې څۀ وایم
دانه بیا مسرورېږی چې څۀ وایم

کۀ څۀ نۀ وایمه هم راپورې کړی
پۀ دې هم راته قهرېږی چې څۀ وایم

د هر چا پۀ لوری خمه داسې وخت دے
بیا مې وخت ګله تېرېږی چې څۀ وایم

کۀ خبره نۀ وی مانه خپه دے خپه دے
بیا خپل حسن نه خبرېږی چې څۀ وایم

ویره بنه پۀ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې مې شرمېږی چې څۀ وایم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

تهٔ به کرځې مسې بنګلے زهٔ به مرېم
چې ې اوس وے لښ لیدلے زهٔ به مرېم
جنازه ې چې لهٔ کوره کړې تــه دروي
تهٔ به نهٔ وې راو تلے زهٔ به مرېم
خداې د پاره پهٔ مزار ې چې را درومې
لښ شه ماته پښه نیولے زهٔ به مرېم
زهٔ به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندی به تهول کلے زهٔ به مرېم
وچې ترږې به پهٔ ما وی با درغوې
وی مزار به مې مُښلے زهٔ به مرېم
اے اشناچې دې وطن له تهٔ را درومې
خپرخبېږ خو دې لیدلے زهٔ به مرېم
خپرې خاورې به پهٔ ما باندې انباروی
مرسرے به دروی غلے زهٔ به مرېم

د کاکل پهٔ ختـه بند د مغ کتاب کـړه
ما خاطر پهٔ خـدای سـپارلے زهٔ به مرېم

○



○

بنګلی مغ ته دې د موم پهٔ شان اوبهٔ یم
لکه کافے مسې کلک ورته پهٔ زړهٔ یم

چې پهٔ کومه لاره لاړ شی زهٔ یې مل یم
لکه ګرد یې مسې خور پهٔ مریو پلهٔ یم

زهٔ پهٔ کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د سترګو اخستے شمه نو ښهٔ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
پهٔ دې خوب پسې لا مغشې وُدهٔ یم

لښ د ځان سره پهٔ زړهٔ کښې فکر وکړه
زهٔ خاطر دې چرې یوځلې پهٔ زړهٔ یم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

کوره چې رنګ مې سوے سکور نهٔ یم
طاقت مې نشته ستا د زور نهٔ یم

راځه د سترګو نه مې مهٔ ورېږه
سرې په ژړا دی ځهٔ مېخور نهٔ یم

دې اسوېلو ته مې تهٔ نهٔ ګورې ځهٔ
سوے په اور یم سوے لور نهٔ یم

ستم کړه تهٔ منع کړے یې چا
زهٔ لا خاطر مرے دګور نهٔ یم

○



○

سپرلیه نهٔ دې پهٔ غُنچو کښې نهٔ یم
عادت پهٔ داسې تماشو کښې نهٔ یم

کهٔ راکوې نو سم شراب را کړه
نهٔ دې ساقي هسې او بو کښې نهٔ یم

اے خدایه بس ما خپله ورځ ولیده
د داسې ژوند پهٔ تېرېدو کښې نهٔ یم

د ستا بانهٔ د ستا رخسار پهٔ خاطر
بې د ګلو نو پهٔ ازغو کښې نهٔ یم[د]

تهٔ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نهٔ شې پهٔ در تلو کښې نهٔ یم

○

---

د مشر اینداو دیوان کښې دا بیت د غزل [illegible] بیت دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

یاره ستا مینې په اور سېزلے یم
دروغ به نشه په زړه داغلے یم

خودم قسم چې تر هغې پورې ژوندے یم
ډېر دې نه په تش دیدن ساتلے یم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلے یم

خوار خاطر ولې چې دا کومه ګناه ده
چې له دردې بېنوا شړلے یم

○



○

ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د دیدو په امیدونو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا ګټېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا د رخسار به مې هېر نشي اشنا
کله د بهار په سرو ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خوهم ته یې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې یه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ژوندی کله نهٔ ماپړهٔ دی چې لهٔ خاورو
نهٔ ماپړهٔ دی نهٔ ساپړهٔ دی چې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلے په ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی چې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شو نو ګلک شو
دیوال کړے چا اوبهٔ دی چې لهٔ خاورو ۲

د خاطر رنګین غزل ته حېرانېږم
په دې خر خېږ کښې څهٔ دی چې لهٔ خاورو

○

۱ متن اپنه او دیوان کښې د (لهٔ) په ځای په هر چرته (د) لیکلی شوې چې صحیح نهٔ دے
۲ متن اپنه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دیوال کړے چې اوس دے چا لهٔ خاورو .



○

خود به نهٔ ژړېږمه په سرو سترګو
ژړو تمه ستا په لېونو سترګو

مهٔ تورووه تورې بلا سترګې دې
پام چې در ته نهٔ شی د سپېرو سترګو

عمر لهٔ چې کار وی د ژړا سره
وهٔ چې ګورې چا ته په معصو سترګو

بس کړه د خاطر سره پخلا شه ته
خلق د پېر عزت کړی د زړو سترګو

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څه یوسي زما په تورو سترګو
زړه دې وړے لا پخوا په تورو سترګو

که پروا کړمه خو زه به دې پروا کړم
نور دې څوک کوي پروا د تورو سترګو

وهلې سترګې مې د سترګو په هر لور شي
کړم دې داسې وار خطا په تورو سترګو

کړې مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ورته یې نه کړم د دنیا په تورو سترګو

نه خاطر دې د کجلو سلائي وے
ښکلولے دې اشنا په تورو سترګو



بیا دې سهي نه کړم په هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مرو سترګو

نه مې شته په نورو سترګو شک د زړهٔ
بس خو زړهٔ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زهٔ یې کړم آشنا لهٔ شوکیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا قُدو سترګو
نهٔ یم چې د زړهٔ په سترګو تا وینم
چارنا لیدلي په ړندو سترګو
خپل مې واړه بدرانګ په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د ړندو سترګو
ستا دې اوښدو وروځو ته حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
خپل دے دا زما سترګې خو بدې شرې
تهٔ خو راته ګوره په دې ښو سترګو

څومره ترینه وتې دې حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مرو سترګو
ریډیو پاکستان پېښور (مسودات)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې ټوله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتـــر لیدلو

دریغه چې شپه وے د وصال خو قصه پورې
زه په دیدن نه مړیدم چې مې دلبر لــیدلو
بیا د سحر غمونو هله لمبې کړمه زه
سې ماښام مې نمر اوچت د غره په سر لیدلو[1]
نه یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نه یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاې قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدائي وختونه
له غمه ډک مې ترهغې پورې اختر لــیدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
واؤ ربیار چې مې جانان دې مــرور لیدلو

[1] سنز لرنه او دیوان کښې چې دغه لرې معنې مصرع داسې ده:
د ماښام سره سے نمر مې اوچت د غره په سر لیدلو

شوق مې ستا د ډېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو اوبه د ستمونو سره لاړلو

خوښ مې اننګې شول د ښو ازغې مې هم شول
نور نو را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
ډېرې مې کړې ټینګې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترګې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زه ترېنه لوګے شم چې به څهٔ سوے ترې راشي
نور هٔ را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته راسې یار شته لکه زهٔ په انتظار یم
ستوړے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېونے زړهٔ پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو زنځیرونو سره لاړلو

څو به دې مهار د عشق نیولے وي خاطره
ځوند د ژړخني هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



باد شومه دعشق دګړنګونو په سرونو
په پوتم دلبرې وطنونو په سرونو

دپښه چې د ستا د اننګو خوله هم نۀ وې
پرې نه چې ګورم د ګلونو په سرونو
ستړې به زما شي اخر غرق په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ دګرداوبونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپهر ستړګي حق حیران شي
درد چې کړه دلبرو محلونو په سرونو
هسې هم ايرې يمه د باد سره الوځم
سکور مې خښله نيسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نۀ کړم غم د ياره کۀ څو ورېشي
خاورې دې پرې وي د تېغونو په سرونو

بنګلې به سر تيټ کړي ياره ستا په تصور کښې
د هر خاطره ستا د غزلونو په سرونو



څو به سره پټ دواړه په زړۀ ذره ذره يُو
کۀ دا دې خوښه نۀ ده چې هرچا ته دې ښکاره يُو

يو دغه ښپلتون دے چې عزت مو په کښې پردے
څو به په کښې وايو چې مدام دې دربسره يُو

تۀ زما په سرے شمعې زۀ ستا په انتظار کښې
هر کله چې وي نو مرۀ به دواړه په يو شپه يُو

نۀ به ګلې واوړم کۀ دنيا په بله واوړي
ګرځي دې نور خلق مونږ په خپله تماشه يُو

پوخ به مې سوګند شي په کښو ودځو د يار
اوس به دواړه څۀ رقيبه تو دې په اوږه يُو

راشه مرورده چې مې شک لۀ خاطر وځي
وايو به رښتيا چې دا په څۀ سره خفه يُو

[illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څکه يې ئن په سوزېدو تېر کړه
چې يې پرون په مستېدو تېر کړه

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه يې له ټولو مرحلو تېر کړه

دلسوزی مه کړه تپوس همدمه
ژړکی يې عمر په لمبو تېر کړه

زما دا تېر ژوندون زما خو نه وو
ټول يې د ستا په تللو راتللو تېر کړه

پار بيا د چا له تورو زلفو نه ګرم
يو ځلې مرګ راباندې دو تېر کړه

لکه د شمعې بېکا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سګو تېر کړه

زه چې سپېلی ته ورځم نه يمه
ما د ديدن په رنګينو تېر کړه

ژوندون د عشق لمبې ژوندې ځکه دی
سر مې له واړو ګړنګو تېر کړه

اشنا د ستا د بنګلو مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

ښه شوله وېره چې انکار دې وکړه
زما د واړه عمر کار دې وکړه

خلق چې ښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړه

د زړه زخمونه مې بيا هله شماره
کړه د دې خپلې خندا شمار دې وکړه

زه لا خفه نه وايم چې داغ مې په زړه
ته لا خفه يې چې ديدار دې وکړه

خاطره زه له تا نه چا وېږې يم
وار به دې راشی کله لږ وار دې وکړه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خیر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصویر وم ستا په دوو ځو کېږې محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا په عشق کې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خو هله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

يو ذره يې لرې نهٔ کړلو د مخ نه
فکر يو وم د اشنا د مخ نقاب ته

نور يادونه مې په ياد کېږي راته هوښول
يو دوه نهٔ راځي چې کېښېنم حساب ته

طالب زړهٔ به زما هم داسې تنګ تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ يمه حيران د دنيا سترګو ته
ګوره کتې نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه ليونې شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
راشي شي لهٔ واره ژړا سترګو ته
راځي دې پهٔ خپله اشنا کړي دی
څله مې نهٔ وينل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا بريښنا وه د فلک غونډې
بيا را نغله هغه رڼا سترګو ته
تا چوړ ارادې د راتلو کړې دي
ښکارې مې رنګينه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بيا به نهٔ راګوري سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ چې رقیب ته اشارې کړې دا د مل نښه ده
تهٔ چې دا غلې غلې کورې دا د غل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چې مرور یې لهٔ ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

تهٔ چې تپوس رانه مدام کړې چې څهٔ لټوې؟
زهٔ چې دا لاس په سینه بدم دا ئې اول نښه ده

خاطره تا چې بیګا خوب کښې دے هجران لیدلے
یقین مې دا دے اخرې ستا د اجل نښه ده



خواږهٔ تراخه شو د خوږو وصې نامه پاتې ده
د بدو شپې دی او د ښو هسې نامه پاتې ده

تهٔ را نه هېر یې خدایه هر څهٔ په دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

په سترګو ژاړو او په زړه کښې سره خاندو اشنا
مهٔ کړه ګیلې د ژړېدو هسې نامه پاتې ده

په دېره مینه کښې چې زهٔ او تهٔ پرې نهٔ پوهېږو
د صفر و د ورځو او د شپې هسې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به یې په زړونو پاندې اور لګوهٔ
د ستا د صفې انګر هسې نامه پاتې ده

سبا به وائي چې د خداې په خاطر ناشه لسږه
په ما خاطر کښې د ژوندو هسې نامه پاتې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

بېګا ستا په انتظار ې هسې ستړې تېروله شپه کړه
خندل دا پېرې ستوري چې سپوږمه دا ته ګیله کړهٔ

ورته سر په زنګانه وم د وصال تکي ته غلې
ما به کله کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منډه نظر ستهې چې هر ستوري به چلبک کړه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوري به مزه کړه

ورسره به یې نه وچوي که شپه وچوي د خاطر نه
په ټوله ټوله قدمه شي خو وعده یې ستا پوره کړه

○

---

ـه صحیح مصرع داسې په کار ده : خندېدل دا پېرې ستوري کا چې سپوږمه دا نه ګیله کړ



○

لب د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوري سم کتل زده کړه

په چار خندا به رقیبان پوهه شي
پټ په لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا وارې ونه چوې
تکه تنها که ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصیحت مه کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شوګیر تا په خوب تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګیلو تېره کړه

بې‌تا رانغلې شمع د دې به اشنا
ما توله شپه په دربدو تېره کړه

مینه د ستا زما نوې نه ده سوزوي
هسې لمبه دې په ایرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه

○

○

رقیبه په خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نورې بس هم دا خبرې کړه

څو به پټې سترګې زه د اوښکو کړم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سبو مې کله کېږي د ساقي په پیمانو
د ټولې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین د اوښکو په سیلاب کېږي
بس نور شه راته وایه د خندا خبرې کړه
په خود نه یم تېرو شپو راځي مه کوه دهر
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې وته کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو ترېخ زما لۀ خُلې وباسه

یا مې د زړۀ رازونه مۀ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څۀ لټوه تنګه دنیا که شوه د به
زړې د ژوند نه لا فرغې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مۀ تنګوه
لۀ دې سرای نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړۀ په خونه شو بل
ستړې د سترګو نه یې مړې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا آرمان دې لرم
کۀ مې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن تږے نۀ شی
راشه د اوښکو مې باران یوسه

تۀ چې مسکے شوې زما زړۀ ته بنګلیه
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خو به زر راشه د آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روینه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



لکه ګلی له مسېدو ډکه شه
بانډه دانېغ کړه له اغزو ډکه شه

چې ستا خوږو زلفو ته نېغه نه شوه
زما څټګل له زولنو ډکه شه

که یې هر څو درسره فسد نیولے
خو زما مینې له پېښتو ډکه شه

چې یې ژوندون له رنګینونه ډک شی
بیا په غصه کښې له نشو ډکه شه

بس پښېماني له زړه نه وباسه نن
وېرېږه مه له اشارو ډکه شه

چې تا یې هم ګرېوان نه خیرې ووې
هم ستا کوڅه یې له ټېرتو ډکه شه

بنه دې زړه تش کړه چې بیا بیا نه وائي
فضا زما له اسوېلو ډکه شه

بدخواه چې لاس په سینه کښېږدی درته
دخېبر څانګې له اغزو ډکه شه

خاطره یار دې په خېبر کښې اوسی
تېوله دره له سپېلنو ډکه شه

ستا له سپینه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستا نه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا په ژبه باندې هر ژبه خوند کا
اے اشنا یا اپرېدے یا پښتو دے شه

زه او ته د چا ژړا او خندا څه کړو
زما او بنګي دې باران ته پسرلے شه

اوس د ګل څخې ته لرې شه رقیبه
یا پخپله باندې ګل شه یا اغزے شه

زه خاطر دې نور خاطر کوله نشم
اے رقیبه که پوهېږې نو سړے شه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د هجران په شپه ډېوه په لاس کښې راغله
خداې خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس تهول راله راتېرشي
چې یار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړکړل
چې لۀ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یوه ځېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شوه مسکۍ نو بیا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

ترخو ته مې نږه کېږي کله کله
په خوږو سپے مې کېږي کله کله

د دردمندو نظر هغوله په کار دے
چې دلاسه دې بنۀ کېږي کله کله

چې اشنا د چا نه ورک شي موندۀ نشي
پسې ځان مسې ورکېږي کله کله

ښکاري یار مرور نۀ دے اے خاطره
په لمو کښې چې اوسېږي کله کله

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د ښکلي مخ شمع چې مې شوله
جوړه په محفل کښې توره شپه شوله

راشه لږه واوره د الفت قصه
بس دے نوره نه ده کښې چې نه شوله

ډېرې وعدې ښې دې لږې لندې وې
اوس دې هر یو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر ونه کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه آشنا ښه شوله



بیا به سره ګورو اوس ځواني ده درومه درومه
څوک کړي دومره غم خو دېواني ده درومه درومه

اوس ته ایله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بیا راته ګرانیږي آساني ده درومه درومه

وې یې چې بازار دې د ښاپست دے ګرم شوے
هر شے په کښې ختلے دے ګراني ده درومه درومه

نه او ته خاطره نور په ځنډ سره خوابه یو
مینه خو هم دا پښېماني ده درومه درومه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شومه
اوس دې چې نهٔ ښکلیه دکوڅې شومه

نهٔ به په ځان څهٔ وکړم چې راشې تهٔ
واړه دې پهٔ طمعه کښې ذرې شومه

دومره درنــزدې یم کهٔ څو لرې یم
لرې به شم نورکهٔ درنــزدې شومه

نن خو دې خاطره چې ســـبا نهٔ وے
پوه دې نهٔ د مکر پهٔ وعدې شومه

○



○

کله چې پهٔ فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لهٔ ځانه خو بیا راشمه

تهٔ کهٔ لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس در ســره څرنګه پخلا شمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ کهٔ د خپل زړهٔ پهٔ تماشا شمه
تاو چې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کوم چې بستا د زلفو پهٔ سودا شمه
تورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدایې خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راسې ځای لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنیا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه پهٔ طمع د سبا شمه

وړې چې غریو نیولې راکتلی دی
لږه بهٔ خاطر ته پهٔ خندا شمه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلا رې خاوره شرم د ښېرو خښې وتلے یمه
اشنا پۀ تا پسې لۀ تلو خښې وتلے یمه

دآشنا مخه نور مې سرے ته وسے لۀ ئې
نۀ خو د اور او د اوبو خښې وتلے یمه

پۀ ښه ښېرو به دې نۀ لېږې نازېدمه اشنا
زړۀ مې اوس پوه دے د ښېرو خښې وتلے یمه

تا خو به نور لا تۀ خندلې وې چې دا څۀ وشي
کۀ پۀ ژړا دې د کوڅو خښې وتلے یمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وشي
نور د کړلو د ګلو خښې وتلے یمه



تو به خنګه تېرېږي پۀ هوښيار باندې وختونه
نا پوهو هسې تېر کړل پۀ قرار باندې وختونه

هيچرې هم سخيان خو د سبا غمونه نۀ کا
لۀ شومانو نه تېرېږي پۀ خروار باندې وختونه
دا تېر وختونه پرېږده لۀ انکار سره چې تېر شو
تۀ راشه نور دې سم کړه پۀ اقرار باندې وختونه
نۀ دے هسې کرم چې خوک پۀ غم کښې دروند ښکارېږي
پۀ هرڅا باندې تېر شي پۀ خپل وار باندې وختونه
ګوره د هغو پۀ نېه وکښې نوره سودا نۀ وک
تېر چې شي د ښکلو پۀ بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تېرېږي وخت پۀ روغ او پۀ بيمار
ودرېږي نه ودرېږي پۀ بيمار باندې وختونه
دمغ دې تصور کړم څڅکه مخ مې داسې تور دے
خبر نۀ يې کړل تېر مې پۀ انګار باندې وختونه

مسا خنګه به لېتون کړے د دنيا لۀ غم نه خلاص يم
خاطر ما ښکلي تېر کړل پۀ خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وکړنه
ته دې د شمعې غوندې رنګ وکنه

کۀ مې کوثر شولو نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق په ننګ وکنه

زمکه بستر وی لېونو ته مُدام
زړګیه ته یې هم پالنګ وکنه

لکه چې څومره ستا غمونه دي ډېر
پراته مې ټول په زړګی زنګ وکنه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په ځان قلنګ وکنه.



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړۀ مې حوصله ماته شوه

شونډې دې هسې د پیالې نۀ وې
په زړۀ دې بله څۀ راتله ماته شوه
نو دې ساقي څۀ جُرم نۀ دے کړے
تشه لۀ لاسه مې پیاله ماته شوه
کۀ په عوض کښې یې هر څۀ غواړې ته
دا مې په برخه رسېده ماته شوه
لاس مې یې واکه چې جامونو ته ځي
ما بنام څونۀ دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دروغو تروږې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

نور زهر په خوږو کښې د افسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دا نېښ په چاقوون مه راکوه

تهٔ تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لمسون مه راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لاشې بې وعدې
دا دې وی در پاتې خو زبون مه راکوه

کهٔ زهٔ چرې په خود وے نو په تا شېدا کېدم
په سترګو ماله بار بیا د جنون مه راکوه

هر څو کهٔ زهٔ خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
د ګون مبارکي خو په ژوندون مه راکوه

○

[1] دیوان او منزل ئ نقل کښې مصرع داسې ده: هر څو کهٔ زهٔ خاطر د اشنا اجل ته شوم

○

تهٔ خو وایه زهٔ به څهٔ کړم — زړګیه لېونیه
څهٔ به کړم او څهٔ به نهٔ کړم — زړګیه لېونیه

تا خو وې آبادي پرېږده، ما خو پرېښوه دلته څهٔ دي
په صحرا چې ګرځېدهٔ کړم — زړګیه لېونیه

چې اشنا کړې سترګې پورته بانهٔ ستا په لور دروي
نهٔ یې کوم طرف کاږهٔ کړم — زړګیه لېونیه

زهٔ خاطر در ته حیران یم چې په څهٔ باندې راوېښ شوې
چې په څهٔ دې اوس ودهٔ کړم[1] — زړګیه لېونیه

○

[1] منزل نه او دیوان کښې (وده کړه) دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څېګر یې شو کباب په لمبو اور ولګېده
په ما دے یک تنها کله په هر لوري ولګېده

چې لرې در نږدې شوم د وصال په تمنا
د ستا د کُنګرو ګانو په ما شور ولګېده
څېګر یې تش ګوګل دے راشه وکړه تماشه
د سوو فریادونو تنګ ټکور ولګېده
زړګیه اُمید لنډ کړه پس له دې نور له وصاله
بېلتون دې ځواني مرګ شي اوس یې زور ولګېده
سپین مخ دې رابنکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د وریځو غوندې خور ولګېده

خاطره خدای خیر کړه بیا دیدن وکړې دیار[1]
چې بیا د غمازانو داسې زور ولګېده

اشنا وې دا لرګی دی د خاطر داسې پلو
رقیب وې ما زیګر شي په تن اور ولګېده

۱. منزل نسخه او دیوان خاطر کښې داسې دے: خدایه خاطر خدای دیدن وکړې دیار
۲. منزل نسخه او دیوان خاطر کښې تنور لیکلے شوے دے، چې معنیٰ بدلوي او قافیه غلطوي



لوے دریاب د مینې نه شي په واړه زړه
شومه یاره بیا د ستا غوندې په نه زړه

چې په خُله کوي یو او په زړه بله
د هغهٔ سره به مینه کړي په څه زړه

سوی د رنګ ته یې لږ وګوره دلبره
ما نیولے ستا د حسن په لمبه زړه

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رویه
د هر ستوري سره پورته یې خاته زړه

بیا یې خوب واړه تښتولنه او هیبت شي
د هجران چغې چې وشي په وُده زړه

یرغم نه دے چې یې وکړې اے خاطره
د بېرغمونه دي کوه یې په ساړه زړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داسې بله شپه به په نصيب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقيب سره راځي

خوشحاله وي په غم کښې همېشه دا به شاد ظلم
را دروي خوشحالي دې د حبيب سره راځي

خوښې په تندي يې د ازل ليکلي نه وي
دومره زحمتونه د غريب سره راځي

خندېږي او کړېږي سره ګلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندليب سره راځي

نور خلق که رغېږي په دارو د طبيبانو
خاطر ته مرضونه د طبيب سره راځي

○

له متن لمنه او دیوان خاطر کښې الفاظ هم، نشته چې مصرعه یې وزن نه لري سمتي کړې
له مطرح چې، ترکیب مصرع یې معنی کړی



○

عکس د ستا زما د ستر ګو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره مې بېلتون په يو ګذار نه وځي

دا ستا کوڅې له زه د روغ ځان په خيال نه درځم
چې تاو را تاو نشي د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع رو ډېره راشه نور د غه ضد و نه پرېږده
چې په مئين دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې مې ژوند تېرېږي
چې په رښتيا خو سمندر وي دا انکار نه وځي

شپې د او ښکو د خاطر پسې ايله زياتې شوې
ښکاري د ستا د ځوانۍ اوږد د شو بهار نه وځي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

چې کله درته لږ ډېره هجره نه شم
دستا سترګې مې کوږې د زړه نه وځي

خدای دې هغه وخت را نه ولي هغه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړه نه وځي

که دستر ګو نه مې وځي دستا سترګې
دې وېل که مې جرګې د زړه نه وځي

موده پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې ښ ټنزې د زړه نه وځي

جمع زړه له اشنا چې زه دستا یم
چې ته زلفې مې خورې د زړه نه وځي

د مخ لرې کړه پلو زه دې لوګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړه نه وځي

تر هغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړه نه وځي

○

○

زړګیه تا وې چې دردونه څه دي
دا په ګوګل کښې دې ترګونه څه دي

زړه په بڼو مې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څه دي

بس خو که مخ دے نو ګلنامه دےستا
دا د خورشید قمر مخونه څه دي

نه ده اسانه اشیانه مې د زړه
لا د ستم دې تندرونه څه دي

دستا منزل دې دومره لرې شي
ګودر ږندو ته تیندکونه څه دي

که چې ذرې کا نور نو لا به بشه شي
ستا په فضا لا وسعتونه څه دي

چې مرور وي یو ساعت یې ګوره
چې وي پُخلا نو بیا کلونه څه دي

چې مرور یې پټېدے څو نه شي
ما ته په غلا غلا دیدنونه څه دي

دا په خاطر ګلفامه ستا دشونډو
وي په خاطر دې پرهرونه څه دي

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نۀ شې په بيا کښې خۀ دی
پرېږده راوګوره په دا کښې خۀ دی

زما په اوښکو کښې خندا ده وړستا
ياره د ستا په دې خندا کښې خۀ دی

شمعې د ټن شپې نه سبا جوړه
سبا به مړه وې په سبا کښې خۀ دی

زړۀ مې يې ستړے په تورپوزونو کړلو
ګُله دا ستا په دې ګډا کښې خۀ دی

خاطره ته چې ماته نۀ شې کښتے
لږ مې پوه کړه چې په ما کښې خۀ دی

ګُله د ستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شپېږو شپې دی

په دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
داې د ژوند د تېرېدو شپې دی

په تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تېرې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راخېژې ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زۀ خاطر در نه تپوس کومه
د بېلتانۀ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وېنو غړغړې وکړلې
دا يې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دي
په دې زندان کښې ازادۍ پټې دي

زړه که ته غواړې نو لېونے خونړيم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خوږو زلفو کښې د اګوړې په چل
په دې خنګل کښې دې هوسۍ پټې دي

په کومو سترګو به بيا بيا درڅمه
په اشارو کښې دې ټګۍ پټې دي

خاندې چې جوړې شول د زړه زخمونه
ايله په وينو کې خوږې پټې دي

څه شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلي پټې دي

په سرو سرو ګورم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستي پټې دي

ستا له سينګاره مې خوانۍ شه لوګے
وبرې په خادو کښې خوانۍ پټې دي

د ستا په خيال زما خاطر شو ايرې
خو د اُميد په کښې سپرغۍ پټې دي

○



○

زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وينمه سترګې که هر چرته سترګې دي

له هره دره ودې تلې سترګې مې آشنا
که ورېږې دي که تږې خو دې در ته سترګې دي

نه تل را ته مړسېږه په دې عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پرهر ته سترګې دي

د مينې سمندره سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي

په اوښکو مې کړه ستړه وړه ونه مې د عشق
که ګل يې د مخ رڼې خو ثمر ته سترګې دي

را وه چې خبرې ښه وه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که خوشحالي نه ده له تا د يار ديدن
نه نه شم ورکتلے زما نمر ته سترګې دي

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې بله دنيا ښکاري
تا چې نه وينم نو بله دنيا ښکاري

تنګ کوګل يې د دنيا شي چې ته ياد شي
بې تا تنګه لا کوګله دنيا ښکاري

بې له مانه هسې کله صحرا ښکاري
بې له تا نه هسې کله دنيا ښکاري

چې په هجر و وصال نه پوهېږي پوهېږم
دا وستا ده که مې خپله دنيا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان و نه کړو خاطره
شګفته خره او بې ګله دنيا ښکاري



زړه مې که هر څو رانه هر څه غواړي
هېڅ نه دے خبر چې هر څه زړه غواړي

اے ماشومه زړه ته رانه ښه وائې
هغه رانه غواړې چې ما نه غواړي
تل به بې پروا وي ګړنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېده غواړي
زړه او د نظر ځني دې خلاص کړمه
نور دې لا ښايست راځني څه غواړي
هر سړے د ستا د ديدن وړ نه دے
راخو هم زړه غواړي هم لېمه غواړي
خبر نه که زهير شوم ځان ته ګران شومه
بد هم په کښې وي چې څوک يې ښه غواړي

خلق پرې تېر شوي له سرونو نه
ځله ورنه خاطر په تشه ځله غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

زما زړهٔ او د ستا سترګي سره پېښې[1]
نو به بد کا چي په دي منځ کښي ځاښېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوي خبر دے ښېږي مهٔ کړه
مئين زړهٔ چي ستا له مينې نهٔ صبرېږي

کهٔ دي غم په ما انبار وي پروا نشته
د کلونو لاندې ځانګه نهٔ ماتېږي

چي مي ورتې اشنا وائي .خفه شوې؟
زړهٔ چي ښهٔ شي په ګوګل کښې نهٔ ځائيږي

زهٔ خاطر داسې هيبت ستا د راتلو کړم
لکه پانه چي په ونه کښي رپېږي

○

[1] پوهېږي



○

ما وې نن به چي زړهٔ وچوې خو دردونه دي تېرېږي
پرېږده خپهٔ کړي تپوسونه خو وختونه دي تېرېږي

جوړېږي تا اراده کړېږي د راتلو زما په لوري
نن چي سترګو ته د وړاندې مشالونه دي تېرېږي

جانانه زهٔ چي زغملے شم کهٔ وي د ستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دې تېرېږي

ستا د حسن په بهار کښې يار ه نوري رنګيني نشته
دا[1] دهر په خاطر باندې غمونه دي تېرېږي

○

[1] منزل لرلو او ديوان کښي د الفاظ نشته چي مصرع چي تي معنې کړېدا ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څۀ چې پرې پۀ ما زما د يار سره جوړيږي
خېر دے زما زړۀ د انتظار سره جوړيږي

کله پۀ يو رنګ شي بيا سل ځل پۀ بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړيږي

ګوره وا ړۀ څنګه پۀ سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړيږي

څۀ پۀ خاطر کيږي نن د ښکليو پۀ صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړيږي



د وخت د ګذارونو مې داغونه نۀ جوړيږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نۀ جوړيږي

يو ځلې مې ودان کړے ستا تصوير راله اشنا
هم مخې زما هغه فکرونه نۀ جوړيږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور کې دوه زړۀ پۀ کښې برجونه نۀ جوړيږي
اے زړۀ تۀ راته وائې چې يار راشي څۀ به کړو
لا خو به څنې وړاندې تعبيرونه نۀ جوړيږي
زۀ خو چې اشنا له د پخوا نه لېونے وم
د عمر لېونو ته زنځيرونه نۀ جوړيږي
زۀ تا ته پۀ قدم کښې او نۀ ما ته وکې ولاړه
زما او ستا پۀ منځ کښې پېغورونه نۀ جوړيږي

خاطره يو ورځ نۀ ده نن زړۀ جوړ او سبا ورانه
چې تۀ پرې کوې غمونه هغه زړونه نۀ جوړيږي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

نور به ایله څه دلبرانو نه پاتې کیږي
ګوره چې یو ګړ دې چې د پښتو نه پاتې کیږي

زړه مې چې اشنا دستا د تلو نه پاتې کیږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږي

پیغې مې د زړه دلمن ورڅ بېدې لاړې
غم دې په کښې ډېر شو د نیرو نه پاتې کیږي

نه بلېده هسې اور دمغ دې. دا مې زړه وه
ګوره چې به سکون د سرو لبو نه پاتې کیږي

تا چې په کړو وړو دعشق بوتلم زړګیه
څنګه سې لاړې د رندو نه پاتې کیږي



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دېوالونه
دغه تور لوګی چې د ډیوو نه پاتې کیږي

یاد مې د دنیا لږ یاده مخکښې مخکښې سړی
څنګه به دستا دیادېدو نه پاتې کیږي

باده د بېلتون چې مې په لړی بیا را نه شي
سترګې مې دیار د تماشو نه پاتې کیږي

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې يې خاطره چې د پښتو نه پاتې کیږي [1]

بیا راغلله شپه او څلند ستوري یار رانغی
بیا به مې خاطر نن د خوبو نه پاتې کیږي

○

[1] د دیوان کښې مصرع داسې ده: خاورې دې دې ځانه چې د پښتو نه پاتې کیږي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه برندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي
څو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
ډېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي
نهٔ درته لهٔ یاره پهٔ محفل کښې کښېنهٔ شم
سترګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي
عقله چې یې وینمه زلفې تار په تار
بس خو یو ګرېوان ته مې لاسونه وارخطا شي
دومره اے زړګیه! ځان ته مهٔ بښکلوه بښکلے
وبه چوي لهٔ واره کهٔ دردونه وارخطا شي
غلهٔ سره د مینې په محفل کښې چې یو ځاې شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي
مل ئې کړه د زړهٔ مې کهٔ پهٔ خُلهٔ نهٔ بیانېږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
څکه زهٔ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

○

میاشتنۍ «ژوندۍ» پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ع

پهٔ اُرمان د ناداني شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوب یې ورک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي یې پهٔ کار نهٔ وي
پهٔ اُرمان د روغ صورت شي چې بیمار شي

پهٔ توبه باندې ډېر بد ښکاري چې زوړ شي
ښکاري ښهٔ چې پهٔ ځواني کښې توبه کار شي

لېونی پهٔ کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښیار د خندن پهٔ یو ګذار شي

خپله غمه د یار غم یې لښ مېلمه دے
تا به وکړمه وار وکړه کهٔ دې وار شي

تهٔ دې خپلې سترګې وګوره چې څهٔ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي
غني د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هېڅ نه ده
لکه دریاب کښې چې باران ورک شي

هومره مې سود په لېونتوب نه کېږي
چې په منګل کښې مې ګرېوان ورک شي

څوک به لټومه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي



چې یې روڼ دے د لېمو په پېمانو شي
سو دې کله بیا د لب په بهانو شي

څو چې خدای راکړے نه وي نو به ژاړم
د خېبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لېونۍ غښۍ نه تل په لېونو شي
زه د ستا لېونو سترګو نه ډار نه کړم
که خوږونه دې د سترګو لېونو شي
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپېلنی د وږاند بنو شي

چې د نېړه ګوټ ته دې ناځي پروا مه کړه
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

---

۱ که دا د واړه شعرونه متن لرنه کښې نشته

۲ دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده: چې د نېړه ګوټ ته راغله ودې سېزي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خورې زلفې کوڅې ته راتاو شي
زما د زړهٔ ځنې بسې راتاو شي

پهٔ هره پېره لوپټه کښې تاو شي
لکه وېانه بر بوکه را تاو شي

نهٔ به مې بیا کړې لېمې د غرونو
نهٔ به دا ستا سترګې هوسې راتاو شي

پهٔ زړهٔ بورې خوبه وا نهٔ وېم لهٔ تا
نهٔ به خاطر ستا لهٔ ځوانه راتاو شي



وړاندې به مې دا وېچې کا تهٔ به شي
اوس چې پهٔ ژوند پېره شوم وایم څهٔ به شي

وایم ستا بنړ ته د زخمي زړهٔ نه
بس دے کهٔ وی داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ وهٔ مې لهٔ داسې جدائۍ خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

وېې کړو تپوس چې راځه څهٔ غواړې
ما وېې چې کهٔ راشې نو خرابهٔ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ یې پرېږدی دواړه سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ اوبهٔ به شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خزان لاړ شی بهار راشی ګلان خوشحاله شی
بلبل یې د چمن وی بوراګان خوشحاله شی

ښ خو مهٔ راکوه مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې نا پوهه رقیبان خوشحاله شی

شمع چې بلیږی د محفل د پاره خاندی
زړهٔ کښې داسې وایې چې عاشقان خوشحاله شی

راکړه جفا کانې، ستمونه کهٔ غمونه وک
زړګے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شی

○



○

راشه په ګوګو کښې د جګر ګوخبرې نهٔ شی
چرته چې په سوزونو کښې د پردو خبرې نهٔ شی

ډېره شپوله راشه چې لهٔ یو بل نه خبر شو
یاره پهٔ یو شپه د ټولو شپو خبرې نهٔ شی

وایمه لهٔ ځان سره چې دا به ورته وایمه
راچې شی آشنا پهٔ حو وصلو خبرې نهٔ شی

زهٔ او تهٔ چې وویښو لهٔ ورایه سره پوې شو
چا وې چې پهٔ سترګو کښې د زړو خبرې نهٔ شی

یاره ستا د هجر اوږدو شپو شو ګیره کړے یم
ګوره چې مې اوس پهٔ اسویلو خبرې نهٔ شی

خدایې خبر خاطر زهٔ بیا چرته تهٔ بیا چرته
پرېږده اوس پهٔ تللو کښې د راتللو خبرې نهٔ شی

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شي
رقیبه یار که ئې په خُله پاتې شي

ستړے مزدور سحر وختي پاڅېږي
په شوګیرو مئین ورده پاتې شي

یو ځلې نیغ په دې لار تېر شه اَشنا
چې دې کابه واړه کاته پاتې شي

افسوس چې ستا په خیال کښې څه ښکاریږه
دغه ارمان به مې په زړه پاتې شي

وستایه ډېر د یار تراخهٔ خاطره
چې په کتاب کښې دې خوارده پاتې شي

○



○

زړه په دې نه دے چې ناولے مخ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ مې خوښ دے
والله په ټولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې مې بهیږي په مخ
دا بې ګناه جانان رټلے مخ دے

څه وشو تا که دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړه کښې ستا ساتلے مخ دے

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږ خوږ د مینې په ترخو کېږي انتظار دې
ښکلي تماشه په تماشو کېږي انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما څومره اوږدې کړې وې
بڼه دے چې د ژوند په ورځو شپو کېږي انتظار دې
مه کړه ضبطه مه چې راله اوښکې وچې نه کړې
ورېږي دې د چا په دې شپو کېږي انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونه نیوه
ما ته څه د هجر په غمو کېږي انتظار دے
لاړې د اُمید د ژړګۍ شنې پاڼې ې وچې شوې
بیا در ته سپرلیه په راتلو کېږي انتظار دے
ما وې چې که نن نه وي سباله به دې خوښه شي
ورځې ې در ته کړې په اسرو کېږي انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کېږي انتظار دے

بڼه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن په سرولمبو کېږي انتظار دے



څوک چې ستا د ګراني مینې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سپېڅلار زما په سترګو کېږي غمېږي
چې په کوم لوري ته ګورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کېږي
که یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوي، تغیروي چې ې ستا مینه
بس هم دغه ې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څه په مخکېږي مخکېږي کېږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

که دې یار له سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونیسه دا یار دے

---

میا شتنۍ غنچه پېښور

---

اګست ۱۹۶۰ ع

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه څوک ورسره چې وفا زما دلبر دے
چې لۀ غمه یې زۀ مرم پۀ دۀ اختر دے

دهجران د لاسه شپه و روځ ژړېږم
څکه داسې چې پۀ اوښکو ګرېوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کوے نۀ شم
یا خو دے ووړې پۀ لېمو کښې نور د دے

اوس چې سود پۀ بل بشر د زړګی نۀ شی
چې لیدلے مې د یار ښکلے بشر دے

تور بانړۀ د یار دغشو پۀ مثال دی
چې ویشتلے یې زما د زړګی سر دے

د ریغه زۀ خاطر خو پوه پۀ سپل قصور کې
چې پۀ څۀ باندې زما نه مرور دے



ما وې خان را ته اشنا د ستا پۀ څېر دے
دې وې ورور دستې به تۀ پوه شې څۀ وایې خبر دے

دې وې زړۀ کۀ څېرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشپېر دے

دې وې زۀ یمه هر چا پۀ مهر رونړه
ما وې زړۀ زما د لوړو غرونو شپېر دے

دې وې بیا تۀ مخ ښکاره کړه کۀ پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا لۀ سره تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت یم پۀ طمع
دې وې را شه دلته کښېنه غم یې ډېر دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن دا اشنا يې دلبر نه ړک دے
د زړهٔ جهان يې د لوګو دا سوېلو نه ړک دے

خوښه يې ستا پهٔ بڼو غشو ده ويشتنه د زړهٔ
ګنې وطن خو هسې ياره د ازغو نه ړک دے

د ستا نصيب شه خوشحاله د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غريب نصيب د شوګيرو نه ړک دے

نمر مخي مخ ته يې لهٔ ورايه نا خبر کتلي
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ړک دے

دا شه ګلونه ګواهان دی پهٔ صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ړک دے

دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړه کښې
لهٔ دې خوګو ورينهٔ دے هر خوګهٔ د تيارو نه ړک دے

زړهٔ مې يوه د لېونتوب پهٔ کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ړک دے

همدمه مهٔ را يادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو مختښے لا د ګيلو نه ړک دے

زما خاطر يې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ړک کړو
د مغ کتاب دې د اله راوړه د قيصو نه ړک دے



تنګ تور سورے د ستا سورے ورد بل دے
چې دې اور د بنګلي مخ ترې لا ندې بل دے

چې خو ځم پهٔ مخکښې لا منزل زياتيږي
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

زړې يې شک پهٔ ګومه لار دے سودائي شوم
نور دې هيڅ مونده نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې پهٔ کښې اوسي اے خاطره
خيبر وګڼه حرم کهٔ خو شړل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څومره ورېږي په زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نه شي واړه کم دے

زه چې مست پرېشان او سرګردان یم
مرور غم یې لکه زلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه یو وارې په سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده که څوک راوړه
په کوم ځای باندې یې ایښے چې قدم دے
ټول عالم یې وپېژنده د سخاوت که
ګیله څه کړم چې دا خپل نصیب مې کم دے
زه خو څکه مست شومه په خندل یې
خلقه ما او په جانان کښې کوم یو کرم دے
چې دلبرې په ژړا پورې نن خاندي
نن مې شوے مې د سترګو کله نم دے

حکیمانو له مه درومه خاطره
د یار شونډې دې پرهر له مرهم دے

ستا په انتظار کښې ماته کال څه دے
دومره لا مانده نه یم ستا خیال څه دے

سوزي هم هغه چې پرې بلېږي اور
خانده لے اشنا تا ته ډغال څه دے

تاکه په شال کښې پټه ولېدم
بیا به داسې واړې چې مشال څه دے

زه دې مرور غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا په جبین خال څه دے

ما خو درته وېل وړېږه مې مه کوره
وګوره خاطره اوس دې حال څه دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څې نږه ئې ستا په تور دے په بل تور ئې پېژنو نه د
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور ئې پېژنو نه دے

اے مجبوره چې ئې وړانه نه کړې دا د نړۍ خونه
ارمان په کښې د یار کړمه په کور ئې پېژنو نه دے

دا نه چې ځر بنا پست باندې شپدا دے زما زړه
د ستا په مخ دې سوزی خو په اور ئې پېژنو نه دے

په غیر ستا د محفل ځنې ئې نه شی ځه گذران
در دروی به خاطر خو په پیغور ئې پېژنو نه دے



چې لب نظر ئې د بصر پاتې دے
جو ړې ئې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږو زلفو ده څو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
ناز دې د مینې د لمبو ځنې زړه
لا ئې په مینه کښې څېګر پاتې دے
تېرس د شپې وکړه که وکړې یقین
ستا انتظار را نه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تښه نه شې
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې کې
ما خو د ستا په سر وطن گنڼلو
خبر شه اوس را نه خبر پاتې دے
نه او انکار له تا په کومو سترګو
لا ئې د تن د پاسه سر پاتې دے

نه د دربار په خُله رخصت څکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خــندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

پۀ لندو پلونو بـه يې ښکله خــــمه
ما خو تل تنګ چې د صحرا زده کړے

نن دې ونۀ وې پـۀ وعدۀ کښې راتـه
هره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفــا مــۀ کــړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے



د ځان سينګارولو کښې مسکې وې ما لـيدې
زما د زړۀ پۀ سولو کښې مسکې وې ما ليدې

پرون چې څۀ پرواه ستا پۀ ګذاب نۀ وه صنم
زما پۀ زړۀ ويشتلو کښې مسکې وې ما ليدې

شاهد چې وه د دياده حيرانتيا کې هغه وخت
ائين تـه پۀ کتلو کښې مسکې وې مـا لـيدې

خفه يمه پۀ دا کۀ بنۀ يې ستا لۀ سپي کړم
رقيب ته پۀ وېلو کښې مسکې وې ما لـيدې

لبان دې لکه پاڼې اننګۍ دې سرۀ ګـــلونه
سحر چې تۀ پـۀ ګلو کښې مسکې وې ما لـيدی

خبرې پۀ غصه کښې کيږي هم د چـا خاطره
اشنا چې پـۀ کنځلو کښې مسکې وې مـا ليدې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا مې نن لیدۀ تېرې وعدې را یادېږي
دا وصل کۀ هجران دۀ، چې کېلې را یادېږي

○

بس دۀ مې ستا ارمان پۀ نړۀ کښې نن تلاوه[1]
دا نۀ چې ماته نورې مرحلې را یادېږي
منم چې فراقجن به نن سبا را یادېږي[2]
لۀ ما چې اشنا لاړۀ ماته شپې را یادېږي
کۀ هرڅۀ شوي، نن یاد لره چې هېر دې نشم بنۀ[3]
پخوا مې لا پۀ نړۀ کښې اوسېدې را یادېږي
دم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو نۀ
چې چرته څو به خاورې با دېږې را یادېږي
زما د نړۍ یادشي د مخکې نظر سره
پۀ هیڅ نۀ هېرېدلې هم داسې را یادېږي
دا نۀ چې آهو چشمه اوس یې غښتې ستا یمۀ
د ستا خمارې سترګې لا دې را یادېږي

بېګا چې شمع رویه هرڅۀ هېر وۀ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را یادېږي

○

[1] مصرع بې معنی ده

[illegible]



○

زما د اُمېدونو ونې شپې وغزېږي
هرڅو ستا د منزل کۀ مرحلې وغزېږي

اوس چرته ترېنه لاړ شم لېونے چې کړمه یار
هرځاې کښې یې د زلفو زولنې وغزېږي

نمر مخنیه اوس دې سې لارې ماته کړه ګرګې
نظر کۀ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېږي

چا هسې داسې بېعې چې خاطر کړو یار ګلا
پۀ دې د رقیبانو جنازې وغزېږي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډو صبغ ونه وې
بس که په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زه که قسمونه ورکړم
زړګیه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې ربړېدې شونډې

○



○

پوه شومه په دې چې په کنځل کښې ښکله ښکارې
وخانده یو ځل چې په خندل کښې ښکله ښکارې

ستا د تصور په یو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وایه په محل کښې ښکله ښکارې

شومه به په باغ کښې ته په غوټو کې خپل ځان ته
ګله د آشنا په سره منګل کښې ښکله ښکارې

سترګې یې په ما کښې دي چې ګورمه هرچا ته
نن راته اے شمعې په محفل کښې ښکله ښکارې

تا به په آئین کښې ځان لیدلے په یو رنګ وی
راشه د خاطر په هر غزل کښې ښکله ښکارې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا ږوګي د خندا نه سترګي لاړي
نو خود مې لیمې بړې د ژړا نه سترګي لاړي

نرګیه! پس له دې به یې د ستا په سترګو ګورم
نظر مې وه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګي لاړي
هم دا دې بدرګه شوه مه ګرځه پار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه سترګي لاړي
ماوې چې کله ورګورې نو اوس بیا مخ پټوې
نو کوزې مې ګریوان ته له حیا نه سترګي لاړي
یوبل ته په کاته شو او په نښونو زلزلي وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګي لاړي
لې راشه شمع رویه! لېږې وګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کېږې مې له څانه سترګي لاړي

نو څه شو که مې د خاطر سترګي په تا نه شي
چې ړېږي داسې ورېږي له دنیا نه سترګي لاړي

میاشتنۍ، قند، مردان
(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۵۹ع

که دې دا زلفې پهٔ لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې
که نهٔ عادت له دې بلا سره شم بیا به څه کړې

در ته کتے نهٔ شم حېران یم د اشنا سېنګاره
تا مې چې داسې پهٔ اشنا وکړل پهٔ ما به څهٔ کړې

څو به بښېږې او دا دتنه تل تهٔ ماته کړې
چې یې پېرزو نهٔ وي دعا هغه اشنا به څهٔ کړې

چې څهٔ یې وکړل هغه یې ټول وکړل پهٔ تا خاطره
وا یه چې تا له پهٔ لاس راشي پهٔ اشنا به څهٔ کړې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



به پېره خوشحالي بنه نهٔ ده بيا رانه هېرېږي
کله کله غم راکوه تل چې مې يار درېږي

زهٔ دې يم لېکے پېتهدے نهٔ شې رانه شمې
خدايږو د دنيا نه پهٔ تيارو کښې بنه بنکارېږي

ماته د اشنا د وعدې هر يو ځاې اشنا دے
اے وېږيه نظره تهٔ پهٔ هيڅ هم نهٔ مرېږې

ستا به د خاطر نه وی پهٔ زړهٔ کښې څهٔ تېرېږي
دومره بې پروا يې چې پهٔ مخ کښې مې تېرېږې

---

له منتر لرنده او دیوان خاطر دولې وکابرېز کښې ـ تا لېکلې شوے دے رچې خیال سیحم کړی



لکه مجنون غوندې کرځم پهٔ بيابان دربسې
وايم پهٔ خُلهٔ ليلىٰ ليلىٰ څيرې گرېوان دربسې

نهٔ شوم خبر نهٔ د وصال له خوشحالي نه چرې
لکه وحشي کرمه غمونو د هجران دربسې

نهٔ دې اشنا يم نهٔ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا مې نشته دے پهٔ تا نهٔ کړم خفګان دربسې

چې تهٔ بيا نهٔ وائې پهٔ ما چې تهٔ شيدا نهٔ يې تهٔ
کهٔ د کمرو مې گذار نهٔ کړو خپل ځان دربسې

پهٔ حال خبر شه چې نن دې را نهٔ شې خواله زما
چېرې پهٔ لاس کرځې خاطره رقيبان دربسې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

راشه اے ماهِ تابان پهٔ توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان پهٔ توره شپه کښې

لاٰ تېکړو بې پروا یم ستا پهٔ عشق کښې
لکه بحر یم روان پهٔ توره شپه کښې

پهٔ خندا مې ستا قسم وی شمع روڼه
څو به کړمه دا ګریان پهٔ توره شپه کښې

زهٔ خاطر د ستا د زلفو نه وار نهٔ کړم
ما لیدلی دی ماران پهٔ توره شپه کښې

○



چې د سترګو دی ښکار زړهٔ زما سترګې
چې یې نهٔ شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړهٔ کچکول کړمه د اوښکو پهٔ زنځیر کښې
چې در کوم شی نمڅنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لبِ راګوره د زړهٔ سره
در نه غواړی جوړ بخښنې زما سترګې

د هر چا دې دیدنونه مبارک شی
ورېنې ستا د پېرزوینې زما سترګې

پهٔ ژړا باندې خو نهٔ شی چې زړهٔ ژاړم
ډکې ستا د درلسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نهٔ در کوی
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

خوږ د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې ډګر مر او ښکو اوړی
په ژړا د غم پخې شوې زما سترګې
چې صبا بېګا يې ستا په در کښې نيسم
خوږ د هرې يوې ناوې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې له ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړي
د اول نه ډېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

مياشتنۍ «غنچه» ستمبر ۱۹۶۰ ع

○

دستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
پهٔ کار مې نهٔ دی دا راپورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
دستا پهٔ پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې داشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
پهٔ تصور کښې خوږې کړې سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څهٔ وشو چې سترګې مې په تا باندې خوږې شولې
چا ته پوره نهٔ شوې چې د ستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګرېوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نهٔ شلېږي د ستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو پېژنده چې د ستا خُلهٔ ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څکه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
څورې افسانې مې په نړګوټي کښې ورستې شولې

سترګې د خاطر کهٔ ستا په سترګو تېرو تلې دي
ګورمه دا بدې کهٔ زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چرته خاطره د ورک شوي زړهٔ
نهٔ ګورې چې تا ته دا اشنا سترګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار به یم ولې
چې پښېمان یې تیار به یم ولې

په یو ساعت کښې مې بیا بیا ژړوی
چې اوس ژړېږم قرار به یم ولې

دریغه چې مې سر دې د ستم نه وې نهٔ
چې نهٔ سر کېږم آزار به یم ولې

نور به دې څهٔ وکړې بانهٔ په خاطر
ټول دې پر سر کړمه وېرېږم ولې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوښکې نهٔ کمېږي خوږ را ماتې شوې
تا چې خندا وکړه نور لا زیاتې شوې

څو ځلې د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شوې

څو به ګورې ستا سترګې نماستګې
لرې دې وې خوږ دے هم چې زیاتې شوې

تا چې د خاطر سره څهٔ کړي دي
خوږ دے اشنا دا چې درته پاتې شوې

تهٔ به پهٔ زړهٔ کښې ماله څهٔ راکوې
کهٔ راکوې ماله به زړهٔ راکوې

منع به نهٔ شم ستا لهٔ دره ځنې
پهٔ دې دې نهٔ یمٔ که څهٔ نهٔ راکوې
څهٔ لوې اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
تهٔ به لا سو نه ما ته بسهٔ راکوې
داسې چل وکړه چې ډېر ودود ډېرم
سپیا به ښکلیه یو لمبه راکړه
دا خوشحالی به ما ته څوک راکوې
چې ټول غمونه راله تهٔ راکوې
چې پرون د اوګوره دې کړم نو ماله به شوه
اوس خو به هر څهٔ پهٔ کالهٔ راکوې

ضد لهٔ خاطره سره مهٔ کوه تهٔ
کهٔ یو اوان راله پهٔ ځلهٔ راکوې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ خبر چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوی لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

هر څوک کهٔ چې د زړهٔ قرار وړلو له راځي
پوهېږم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو ښکلولو له راځي

غمونه د اشنا نهٔ اوس پهٔ هېڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

○

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نېغ مې له زړګي وُځي کاږه چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې له مخه
شي دې پلوشې ښکلې بانړه چې راته ګورې

هغه وخت لږ ډېر ورک ته چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږي لکه بنده چې راته ګورې

ته زما د زړه نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زه به درته ووايمه څه چې راته ګورې

ښخو مې خاطر وکړه چې مه راته راګوره
زه درته کتے نه شمه ته چې راته ګورې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس را نه هیڅ نهٔ شی خطا ده
لهٔ هر ځهٔ هر ځهٔ وو تمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه خنګه هېرېدمه خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ ژړېدمه لهٔ هغو شپو نه وشرمېږه

هېره زما تو له دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

غرېږهٔ غر نهٔ وو ځې صنمه چې وی ژوندی لهٔ غربه راشې
در ته پهٔ ژړهٔ کښې به یې ساتمه پرېږده چې مو پرېږدې پهٔ جنازې

زما پهٔ ستر ګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ ځهٔ دروا پهٔ ومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه



تل به پهٔ هر چا دا سې کېږی پهٔ دا سې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبرېږی لهٔ کومه ګوره به یې ګذار کا

د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به یې ځهٔ در ته ستایمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

خاطر خومهٔ وے در کړلی اوس یې ژوندون اختیار ورکړے
هغه چې تا ور ته خندلی نن یې د نوروی خندا تور دے

زما د زړهٔ خوښه ژړا ده
ځکه یې نهٔ قرار ومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

۱ د دوایه ګایه د (الله) په ځای (د) لیکل شوے دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

نهٔ به خهٔ ګرم ګریبان چې یار راکړې ګُل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدی د ګو ګل

هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې

مل به خنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر ځیګر ورسېدٔ

بې لهٔ سوزه څوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل ازاره مهٔ کړه

اے شباب خاطر دهیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا نهٔ د بنامار پهٔ شان خوړلے یمه
نهٔ دې د سترګو پهٔ بڼو باندې ویشتلے یمه
څې مې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې مې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې تهٔ کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور دے صنمه
خاطر کوی درته سوالونه پهٔ زړهٔ یې نور دے صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ و مه خبره زهٔ، تا چې زړهٔ با بُلبُلے دے
تا وو ې ربار ته پس لهٔ دې به څو راځې
خبر دے کهٔ تش تور ې دې پرون زړګے شړلے
خیال ې وهٔ سنګار ته پس لهٔ دې به څو راځې
وبنا یـه څنګر راته — اوس د زړګی سر راته
وایه د بڼو غشو پهٔ کوم کوم ځاې ویشتلے دے
لاس کښې آئینه ې وه — کړې چې کینه ې وه
ما کتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځې
ښکه مرې در شمه — پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تور پک نیولے دے
یو ځلې در غلے وم — وهې دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راځې
ما چې کوم ستم کړے — اوس ې پهٔ تا کم کړے
دا د څوانئ ولړ پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا — کړې به تل سلام دستا
پرې ې بنده دربار ته پس لهٔ دې به څو راځې

نن خو را ته مهٔ وایه چې نا — تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا — تر سبا
وو ایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ ېې
وی چې تل پهٔ خیال کښې ې تهٔ صفه تصویر نهٔ ېې
بله راته ښکاری را دُنیا — تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا — تر سبا
راکړه ساقی داسې مئ چې شی زما او ستا نشه
هم پرې د جوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام دلبر راکړه پهٔ بیا بیا — تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا — تر سبا
نن خو دې راجمع شهٔ پهٔ مئیو کښې کیفونه دک
سترګو پیمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستونه دی
ګُلې د خاطر شه پهٔ رښتیا — تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا — تر سبا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم پهٔ چم
لوند يې کړيوان دے ځاځي يې نم

مينه وفا دې نشته
پهٔ چا پـرواړي نشته
وېره لهٔ چا دې نشته

کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ يې تک تور صنمه
سوے پهٔ اور صنمه
کومه شـور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم

مينه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

دګل پهٔ چم طلب کړم صنم

ے منزل ارينداو ديوان کښې مصرع داسې ده ـ چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نهٔ وباسي، زما او ستا نه
راځه چې درو مو دواړه، لهٔ دې دنيا نه

زما او ستا دلته ځهٔ دی، خو يوه مينـه
داخو هر چرته کېږی، چې راسې وينه
ځان له به جوړ کړو بوستان پهٔ بيابانه
راځه چې درومو دواړه لهٔ دې دنيانه

خو به پهٔ وېره سره، ديدن پهٔ غلا کړو
پهٔ انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
تهٔ شـه لهٔ زلفو تېره، نهٔ لهٔ کړيوانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنيانه

داړک دمينې نړونه، به دواړه يوسو
ځه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
يو دې چار ګل پهٔ پوښ، بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړهٔ لهٔ دې دنيانه

دا يې پهٔ خوا خاطر کښې، نهٔ وو صنمـه
چې زهٔ خاطر به شمه، پهٔ خاطر جمعه
ځکه چې ستا لهٔ غمه، ډېر يم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه لهٔ دې دنيانه

ے منزل ...اد ديوان کښې (د) ...

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د سن نه کال نه وېرې غمونه
لۀ داسې ژوندنه مرګ بۀ دے زاړي شینه
الله دې خير کړي
ستا د مظانو فرياد ونه
هېر به مې نۀ شي
لکه د زانې قطارونه
هېر به مې نۀ شي
پاس پۀ اسمان کښې جهانونو سره ځينه
الله دې خير کړي
د پښتنو فقيره ژونده
خندګه به تېر شي
تېر خو به شي پۀ لوبه تنده
خندګه به تېر شي
پۀ مصيبت به دې څوک سر ته رسوينه
الله دې خير کړي



نوم د پښتو راځي هېر شو
څوک مې يادېږي
غم د هغوی را سره پېر شو
څوک مې يادېږي
څوک چې د قام او د اولس خدمت کوينه
الله دې خير کړي
خاطره هغه خلق ستا يه
پۀ خپل کتاب کښې
تل پۀ بار بار دغسې وايه
پۀ خپل کتاب کښې
حاجي سره نۀ پۀ وطن ورکړې دينه
الله دې خير کړي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې تولې په سبا سبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د بنا ښسته سترګو د یاره ګلونه مانه ښکلیه یاره
ځم مره لېږې په نیګرتي باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دخداې د پاره بس ګړاشه که مرمدې راخلاشه
ستا د راتلو په انتظار ې سترګې سترېږې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې دېل چا شرې زما دنړۍ ځنې جدا شرې
زما داسترې شوګیرې دې تولې هیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه که لې راګورې بس روانه یمه
د پیغلتوب ملګرې تولې دا نه کېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته ئۀ ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



واوره صنم نړۍ چې نۀ شې لۀ تا نه
ویلے نۀ شم زۀ ځۀ لۀ حیا نه

دغه ستا د مینې د درد و نه ښۀ دی په ما
نړۀ ې دستا د پاره وائي چې وی دې په ما
واوره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدې
دغه د مینې په نړۀ باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

نړۀ ې لۀ خپله کوره تښتی چې راشې صنم
خاطر د ېرګران دے په ما چې په خنداشی صنم
واوره صنم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

پهٔ تش دیدن باندې يې ئو ئو مشغولېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

لهٔ مرچاپته پته ستا یارانه به کړمه
تا له چې در شمه نهٔ څهٔ بهانه به کړمه
پهٔ انتظار کښې يې لهٔ ځان سره ټرېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېر نهٔ کړمه
یو ساعت بې لهٔ تا به پهٔ نور څهٔ تېر نهٔ کړمه
پهٔ دې سودا يې قُدهٔ کېږه راوېښېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

نبه د ستا او زما ، ماهٔ تابان شو سره
بل يې کاروان د ستورو پهٔ کهکشان شو سره
د سبائی د خیال خوبونو کښې زنګېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا تول دُنیا خاطره ما وکښه
پهٔ کښې يې مخ او زُلفې بېکا سبا وکښه
د زړهٔ پهٔ مینه يې پهٔ سترګو کښې اوسېږه
څو مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

له ګه په دریانه او مشرانه کېږي (د) دے



تهٔ چې پهٔ مرګ زما رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

ستا رضا ده چې دا سې ژړېږم
پهٔ عالم کښې دا سې ګرځېږم
پهٔ محبت يې نا رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

عاشقي وه پیدا لهٔ اوره
لېږ زما سوی زړهٔ ته وګوره
جوړ پهٔ معنیٰ قیمت بها یې
ما ته قبوله دلربا یې

خاطر ته ګوره دا سې حیران دے
پهٔ محبت کښې ستا بندیوان دے
يې کبرجنه بې ریا یې
ما ته قبوله دلربا یې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زما داشنا مینه
اے زړه غمگینه

اے زړهٔ ذرې ذرې شه
خاورې ایرې شه
څې دستګو د زړګی وینه
اے زړهٔ غمگینه

راشه کهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمگینه

خاطره داشپې
تا نه جدا شپې
جوړ د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمگینه

اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
غنهٔ به د بنګلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لا هغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی

راشه چې ژوند دې د ګېفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به تول بوټی سره ځان ونبائی
څوک به کلی، څوک به ګلان ونبائی
لاله به هم خپرې ګرېوان ونبائی
هم به بلبل شور و فغان ونبائی
اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وربل جوړوی
په کښې ښایونه به د ګل جوړوی
سرو سرو غنچو نه به منګل جوړوی
په آئینو کښې به کاګل جوړوی

دغه جهان به له نازونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلې ځلمی به په شملو کښې ږدی ګل
او س ځو به جونه په کمڅو کښې ږدی ګل
تېر ارمانونه به په زړو کښې ږدی ګل
څوک به د زړه په پرهرو کښې ږدی ګل

داسې به زړونه په داغونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زۀ کوم ژړا د چا خندا نۀ وینم
چې مې لیده هغه رڼا نۀ وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نۀ وینم
زۀ نور ګلونه د دُنیا نۀ وینم

څو که جهان له دیدنونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان رنړوی
زړهٔ په ګوګل کښې مې جانان رنړوی
د مینې ګل را نه هجران رنړوی
نۀ کړی خاطر دغه بوستان رنړوی

د مغ کتاب دې د رازونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څۀ به د ښکلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګي مې غواړي شمع رويه سوزېدل
راشه يوځل

ارمان مې دا دے که پوره شي
د رنځ دارو مې د اشنا سره لېدل
راشه يوځل

خو به شوکېږ کرم راته وايه
واړه خوبونه راشنې وتښتېدل
راشه يوځل

که ديدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروی مې تور وبيل
راشه يوځل

عاشقان ګوره حال يې څه شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزېدل
راشه يوځل

سوال د خاطر منظور کړه ياره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه يوځل



نن دې وربل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

د ژوند کاروان مې دے د غم څپو کښې ډوبېږي
واوره فرياد مې د جرس په اوازونو کښې
تلے دې پل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تيارې به وينم
سبا د وصل به وی لرې که نږدې به وينم
د ستا منزل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

خاطره نن دې که لږ سم راته کتلی وے
واړه بنايسته به دې له نږه څخې وتلی وے
د کتو چل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړکې نیولې دی ما ستا په رخسار کښې
او به او به شول توری ځی په ځمبار کښې

ما چې لیدلے ، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت را سره مل دے
او س مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به او به شول توری ځی په ځمبار کښې

نه در رسیږی نه درته غږشی
نه را نه ځمب شی نه را نه ښېږ شی
دا ځکه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توری ، ځی په ځمبار کښې

یار چې له ښکلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
ځکه سپوږمۍ وی ، ستوری قطار کښې
او به او به شول توری ځی په ځمبار کښې



زما په طمع به کړې تېرې سې وختونه
زه دې یاره نه یم        دومره وزګاره نه یم
چې درته کړم

ما ته را یاد نه دی څوک زه په ځوانۍ کښې یمه
په زړګی غم نه لرم په خوشحالۍ کښې یمه
زه لیونے یم چې کوم دومره فکرونه
زه دې یاره نه یم        دومره وزګاره نه یم
چې درته کړم

لیونی نه یمه چې ، دغسې دا کومه
په تا دې اور بلیږی زه څه پروا کومه ؎
چې بیا مصروفې را ته نه کا پېغورونه
زه دې یاره نه یم        دومره وزګاره نه یم
چې درته کړم

---

؎ مسرۍ لیونه او دیارلس کښې دوار مسرۍ داسې دی :
لیونی نه یم چې دا سې دا کړم — په تا دې اور بلیږی زه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان وو وینم
چې په ائینه کښې ګورم آئین پرېشان وو وینم
جانانه ډېر درپسې ګرځمه ارمانونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګورم له ځمه مئین سوزېږی په ما
لکه داوو په شان سپېځکار ځلېږی زما
خاطره مه راځه بلېږی سره اودونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

تورې سترګې دې اشارې کا — سرې شونډې دې لبې کا
زړه کېږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته انغی کا — پېښې دګلو انګی کا
چې مسکۍ شی بیا سترګې مږې کا — سرې شونډې لبې کا
زړه کېږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د دسرو ته وی — کره چې ځه دې نن په زړه وی
چې مو خلق ټول تماشې کا — سرې شونډې لبې کا
زړه کېږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښې — دا دې خاطره په تیارو کښې
خپلې او بنګړې دې ځان ته وریږې کا — سرې شونډې لبې کا
زړه کېږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

له متن او دیوان کښې ( تن ) نشته
له متن او نه کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به مې ژړا په تا پسې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دلبره ښه را ته معلوم یې
مسې خوږه چې ته ماشوم یې
کله زهیر په ما مظلوم یې
چې نه پوهیږې له هغو سره وعدې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې په غمونو کښې دې ګېر کړم
اوس دې دلبره څله هېر کړم
که دې یو ګل په دیدن سېر کړم



ګنې له غمه به دې سر شم یا مړې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شوې
بس اوس مې قتل ته تیار شوې
اشنا زما څخه وېزار شوې
پرما مې نشته خو په خپله مې ذبې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

څنګه قبول دغه بیلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دستا چې نه یمه د چا یم
راغلې دایم په خندا یم
مړه نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مړه شوم نو ګیلې کړه
را یادې هغه شپې کړه زما نا ترسه یاره

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تېر به د ستا د حسن وار شي يا ره زما
اخر خـزان به دې بهـار شي يا ره زما

چې نۀ را درومې اشنا نو وعدې ځاله کوې
هغه پرون دې خۀ وې نن چې بيا بـانه کوې
زما يقين ستا پۀ اقرار شي يا ره زما
اخـر خزان به دې بهـار شي يا ره زما

ستـرګې مې بې لۀ تا نه د چا پۀ لور نۀ ګورې
د ستا لۀ مخه ځنې مخ نه نور نۀ ګورې
مَرګ به ګله پۀ ديـدار شي يا ره زما
اخـر خزان به دې بهـار شي يـا ره زما

زۀ د بل چا د مينې اشنا څۀ طمعه نۀ کړم
زۀ به لۀ نورو سره ستا مينه سمه نۀ کړم
پۀ ما خاطر دې کۀ اعتبار شي يا ره زما
اخـر خزان به دې بـهـار شي يا ره زما

له منزلونه او ديوان کتبي (چې) دے

چې نۀ را درومې يا ره تۀ، منع دې کړه ياد زما
نۀ شومه پوه پۀ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د يو ساعت مـهمان د لې
واوره زمـا يـو خـو ګيلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نۀ کړو مراد زما
نۀ شومه پوه پۀ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چـا ته بنـکاره کړم خپل ځيګر
نۀ کـړې پـروا مې پرې دلـبر
نورې دې ځوک چې يې وا وری دغه فرياد زما
نۀ شومه پوه پۀ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

کۀ بنـۀ دې شي پۀ سـر زمـا
وی دې پيشکش دلبر زمـا
وائي خـاطر شـه نار لۀ تا، نشته باقي جائېداد زما
نۀ شـومه پوه پۀ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نمر مخيه يارهٔ تا ووينم
ښکله دنيا ووينم ښکله دنيا ووينم

ستا د کاکُل پهٔ تورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی
دی تماشه مې د ژړا چې د ې خندا ووينم
ښکله دنيا ووينم ښکله دنيا ووينم

د ستا پهٔ مينه کښې د خلقو خندنے خوبن يم
خو د خپل عقل نه وزګار شم ليونے خوبن يم
راسره غم د ليونو شی چې صحرا ووينم
ښکله دنيا ووينم ښکله دنيا ووينم

ګُله چې ما خاطر ته ياد شې ټول جهان ګل شی
لهٔ د ې هجره ضريو ګُل مې د چشمان ګل شی
خدای خبر بيا چې زهٔ به ستورے د سبا ووينم
ښکله دنيا ووينم ښکله دنيا ووينم



د قام ځلمو ستړګې مو پورته کړئ خپل ځان وګورئ
چرته کښې ورسېدهٔ ، وګورئ جهان وګورئ

دقام ځلمو زمونږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنهٔ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نمر پهٔ څېر ې خپل طاقت پهٔ ټول جهان خور کړئ
پهٔ خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شا ته نور مهٔ ګورئ پهٔ وړاندې خپل قدم کېږدئ
پهٔ وړاندې لاړو باندې مهٔ ځئ قدم سم کېږدئ

لهٔ مخې لرې کړئ ازغی ځان ته ګلونه کېږدئ
شی چې اغيار در ته حيران هلته کښې پلونه کېږدئ

مونږ له چې مخې له راغلی وار خطا تلی دی
ځلمو زمونږه ځنې د پر ځلمی پهٔ شا تلی دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تاسو هم وا وری چې پېغور ته نظر تېر نهٔ شی
د پاکستان خلقو میدان کښې مو سر تېر نهٔ شی

د مشرانو تل خلقو نصیحتونه نهٔ وی
دا مو دے وخت د ترقی تل دا وختونه نهٔ وی

ملا مو دقام خدمت ته وتړئ چې سیال شئ پکښې
دا تنګې لنډې کړئ او اړې چې خوشحال شئ پکښې

چې ښٔ یې وڼهٔ کړئ خلقو بیا به یې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پوره شئ پهٔ خپله یې وکړئ

یو بل ته مهٔ ګورئ، لهٔ ځان هر یو مالیار جوړ کړئ
د پاکستان دهر یو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن پهٔ خونه تندر د اسمان جوړ شی
چې پاکستان جوړ شی
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ پهٔ وېړو وینو د اسمان جوړ شی
چې پاکستان جوړ شی
دا دړکې مهٔ کوه
هسې دپکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه دهر یو مسلمان جوړ شی
چې پاکستان جوړ شی
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ یو ځان جوړ شی
چې پاکستان جوړ شی
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمیر کښې هندوستان جوړ شی
چې پاکستان جوړ شی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
حیران پرېشان وو اول
اول وو ښاغلے اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ!
دغر په شان ته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شان د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

ستا د هلال ستوري مدام اختر دي زموږ
د ستا مثال ستوري بنکاري نظر دي زموږ
د ستا د اقبال ستوري سر او بصر دي زموږ

تل ځلیږي په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**